# مَا مِنْ قَوْمٍ يَقُومُونَ مِنْ مَجْلِسٍ لَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ فِيهِ إِلَّا قَامُوا عَنْ مِثْلِ جِيفَةِ حِمَارٍ، وَكَانَ لَهُمْ حَسْرَةً». «هېڅ خلک له داسې يو مجلس څخه نه پورته کېږي چې دوی پکې الله ياد نه کړي مګر دا چې دوی داسې پورته کېږي لکه په يو مردار خره چې سره راغونډ شوي وي، او دا به د دوی لپاره پښېمانتيا ولري

له ابوهريره رضي الله عنه څخه روايت دي وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: «مَا مِنْ قَوْمٍ يَقُومُونَ مِنْ مَجْلِسٍ لَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ فِيهِ إِلَّا قَامُوا عَنْ مِثْلِ جِيفَةِ حِمَارٍ، وَكَانَ لَهُمْ حَسْرَةً». «هېڅ خلک له داسې يو مجلس څخه نه پورته کېږي چې دوی پکې الله ياد نه کړي مګر دا چې دوی داسې پورته کېږي لکه په يو مردار خره چې سره راغونډ شوي وي، او دا به د دوی لپاره پښېمانتيا ولري».

[صحيح] [ابوداود روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې هېڅ داسې خلک نشته چې په يوه مجلس کې سره ناست وي او بيا ترې په داسې حال کې پاڅېږي چې الله يې نه وي ياد کړی مګر دا چې داسې به ترې پاڅېږي لکه د خره په يو جسد چې سره راټول شوي وي؛ په بد بوی او مردار کې ناست وي، ځکه چې دوی په خبرو د الله جل جلاله له ياد څخه غافل شوي وو، او د دوی دا ناسته به دقيامت په ورځ د دوی لپاره آفسوس، پښېمانتيا او نيمګړتيا ولري.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3910